(1)

## د روژې مبارکه میاشت څنګه ترلاسه کړو؟

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کې فرمایلي: « يَأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ»، ژباړه: « اې مؤمنانو! پر تاسي روژې فرض کړای شوې، لکه چې ستاسي څخه د مخکني پېغمبرانو پر پیروانو فرض کړای شوي وې، ددې لپاره چې په تاسي کې د پرهېزګارۍ صفت پیدا شي»، او زه ګواهي ورکوم چې نشته لایق د عبادت مګر یو الله دی چې هیڅ شریک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی په حدیث کې فرمایي: «څوک چې د روژې په مبارکه میاشت کې په بشپړ ایمان او یقین سره روژه ونیسي نو د هغه به پخواني ګناهونه وبخښلی شي»، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځي پوري په نیکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

و بعد:

د الله جل جلاله د فضل او مهربانۍ څخه پخپلو بندګانو باندي دا دی چې د هغوي لپاره یي ځانګړی وختونه ټاکلي دي چې خپل رحمت او مهرباني په هغوي باندي رانازلوي او د هغوی اجر او ثواب دوه چنده کوي نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: یقینا الله جل جلاله د کال په ځانګړو ورځو کې خپلي مهرباني او رحمتونه په تاسو باندی نازلوي نو تاسو کوښښ وکړئ چې دغه رحمت او مهرباني لاسته راوړئ ځکه چې که چیرته په تاسو کې کوم یو دغه مهرباني او رحمت لاسته راوړي نو هغه هیڅکله هم نه بدبخته کیږي پدغو ځانګړو وختونو کې ترټولو لوي او برکتناک او د فضیلت خاوند هغه د روژې مبارکه میاشت ده ځکه چې ترټولو میاشتو لویه او د میاشتو سرداره ګڼل کیږي او د دغه میاشتی ورځي ترټولو غوره

او بهترى ورځي ګڼل کيږي او همدارنګه شپي يي هم په شپو کي ترټولو پاکې شپي ګڼل کيږي نبي کريم صلى الله عليه وسلم به هميشه خپلو صحابه ؤ ته د روژي د مباركي مياشتى د رارسيدو زيرى وركولو چي دا پخپله نعمتونو او د الهي بخښني يو زيرى دى د ابي هريره رضى الله عنه څخه روايت دى وايي نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايلى: د روژي مباركه مياشت چې ورسيږي الله جل جلاله په تاسو باندي روژه فرضه كړى ده او دى مياشت كې د اسمانونو دروازي پرانستل كيږي او د دوزخ دروازى بنديږي او شيطانان په زنځيرونو باندي تړل كيږي الله جل جلاله پدي مياشت كې داسى يوه شپه ګرځولى ده چې د زرو مياشتو نه غوره ده د چا څخه چې د دغى شپي ښيګڼه او ثواب لمنځه ولاړ شي په حقيقت كې د هغه څخه يوه لويه ښيګڼه او لوي ثواب له لاسه وتلي.
صحابه كرامو هم الله جل جلاله ته دا دعاء كوله چې روژي ته ورسيږي او په نيكو كارونو او ښيګڼو كولو كې ورسره مرسته وكړي ابن رجب رحمه الله وايى: زياتره نيكانو به د الله جل جلاله څخه شپږ مياشتى دعاء كوله چې روژي مباركي مياشت ته يى ورسوي بيا به يي شپږ مياشتي نور دا دعاء كوله چې د هغوي عبادتونه قبول كړي يحيي بن ابي كثير وايي: چې دوي به د الله جل جلاله څخه دغه دعاء كوله اى خدايه! ما د روژي مباركي مياشتى ته ورسوه او روژي مباركه مياشت ماته راورسيږي او ته له ما څخه داسي د روژي مباركه مياشت تسليم كړي چې عبادتونه مي پكي قبول شوي وي د جابر بن عبدالله رضى الله عنه څخه روايت دى چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم منبر ته وختلو كله چې لومړنى پړاوو ته ورسيدو نو وى ويل چې امين بيا چې كله دوهم پړاو ته ورسيدو بيا يى وويل چې امين چې دريم پړاو ته ورسيدو بيا يي وويل چې امين نو صحابه وويل اي د الله رسوله مونږ اورو چې درى كرتى دى امين وويل نبي كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل: كله چې زه لومړني پړاو ته ورسيدم نو جبرئيل عليه السلام ماته راغي او وى ويل هغه بنده ډير زيات

بدبخته دی چې روژه ورته راشي او په هغه باندی روژه تیره شي او بخښنه ورته ونشي نو ما وویل چې امین.
دا چې څو ورځي بعد مونږ دغه لوي او د عزتناک میلمه د هرکلي لپآره چمتو والی نیسو نو پرمونږ باندی لازمه ده چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم او د هغه د اصحابو پیروي وکړو او د هغوي په څیر عبادت او عملونه ترسره کړو نو مسلمان ته لازمه ده چې ترټولو مخکي خپل نیت سم کړي ځکه چې پدی سره د الله په وړاندی د بندګانو عملونه قبلیږي لکه چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: دار مدار د ټولو کارونو د نیت پوری تړاو لري او هر هغه شخص چې د هر څه نیت وکړي نو هغه ته به ورکول کیږي که چا هجرت د الله جل جلاله او د هغه رسول د پاره وي نو هغه ته به همداسی ثواب ورکول کیږي او د چا هجرت چې د دنیا لپآره وي نو هغه ته به رسیږي یا دا چې د یوی ښځي ته د رسیدو لپاره وي نو هغي ته به رسیږي نو د هغه هجرت به د هغه څه لپآره وي چې د هغه نیت یي کړی وي د ابي هریره رضي الله عنه څخه روایت دی دي وایي: نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې الله جل جلاله فرمایي: د بنده هر عمل د هغه لپآره دی مګر روژه ځکه چې دا زما لپاره ده او زه به ددی بدله ورکوم او روژه د تاسو لپآره د یو ډال حیثیت لري څوک چې روژه ونیسي نو د بیهوده کارونو او د لهو لعب څخه باید پرهیزګاري وکړي که یو څوک هغه ته کنځل وکړي او جګړه ورسره وکړي نو هغه ته باید ووایی چې ما روژه نیولی ده زما د په هغه ذات قسم وي چې د محمد صلی الله علیه وسلم روح د هغه په لاس کې دی د روژه دار د خولی بوي د الله جل جلاله په نزد د مشکو د بوي څخه ډیر ښایسته او خوشبو داره دی.
همدارنګه مسلمان ته لازمه ده چې د روژي په مبارکه میاشت کې زیات عبادت د ښیګڼي کارونه او طاعت ترسره کړی او په هغه څه باندي ځان پابند کړي چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم د هغه وصیت کړی دی او

هغه څه ترسره کړي چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم سرته رسولو لکه په روژه ماتی کي بيړه کول او په پيشلمي کي تاخير کول ځکه چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي:زما امت به تر هغه په خير او ښيګڼه کي وي چې په روژه ماتي کې بيړه کوي او پيښلمي کې وروسته والی، همدارنګه نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي:چې پيشلمی کوئ تاسو ځکه چې په پيشلمي کې برکت دی همدارنګه مناسبه ده چې بايد په خوراک او څښاک کې اسراف ونکړو لکه چې الله جل جلاله فرمايي:« وَكُلُوا وَاشْرَبُوا وَلَا تُسْرِفُوا ۚ إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِينَ» ژباړه: «او خورئ، څښئ او له حد څخه تېرى مه کوئ. الله، له حده تيري کوونکي نه خوښوي».

ځومره به ښه وي چې شتمن خلک د بی وزلو خلکو د اړتياوو احساس وکړي په ځانګړي توګه پدغه مبارکه مياشت کې ځکه چې د روژي مبارکه مياشت د سخا او د بخشش او د ورکړی مياشت ده دا هغه مياشت ده چې پدي کې د نرمښت رحمت مهربانی او همدارنګه په يتيمانو کونډو رنډو بيوزلو او مسکينانو باندي د مهربانی مياشت ده او دا پخپله ددي لامل کيدلای شي چې د هغوي په زړونو کې خوښی او خوشحالي رامنځته شي او پدي بايد د نبي کريم صلی الله عليه وسلم پيروي وکړي شي ځکه چې هغه په ټولو حالاتو کې د هغوي سره خواخوږي ښودله په ځانګړي توګه د روژي په مبارکه مياشت کې د ابن عباس رضی الله عنه څخه روايت دی دی وايي چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم په خلکو کې ډير سخي انسان وو او د روژي په مبارکه مياشت کې يي چې کله به د جبرئيل عليه سلام سره مخامخ کيدو نو ډير سخاوت به يي ښودلو ځکه چې د رژي مبارکه مياشت کي په هره شپه کي به يي د جبرييل عليه السلام سره ليدل او قرانکريم به يي ورته تيرولو نو نبي کريم په خير او ښيګڼه کې د روان باد څخه هم ډير زيات سخي وو د هغه دغه سخاوت يواځي پدی کې نه وو چې د يو چا اړتيا پوره کړي او هغه ته نفقه ورکړي بلکي د هغه

معنی ددی څخه ډیره پراخه ده چې پدي کې نیکي صله رحمي مینه محبت مهرباني او د حقوقو او د وجایبو مراعت کول راځي چې دا ټول به یي سرته رسول.
همدارنګه مسلمان ته لازمه ده چې پدي مبارکه میاشت کې ډیر عبادت وکړي لکه د قرانکریم لوستل او دهغي په معنی کې فکر کول د شپې لمونځ کول نبي کریم فرمایلي دي: څوک چې د روژي مبارکي میاشتی روژي په بشپړ ایمان او یقین سره ونیسي د هغه مخکیني ټول ګناهونه معاف کیږي همدارنګه نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: څوک چې د روژي په مبارکه میاشت کې د لیلة القدر په شپه په بشپړ ایمان او یقین سره ودریږي د هغه مخکیني ګناهونه معاف کیږي د عایشه رضی الله عنها څخه روایت دي چې نبي کریم د یو شپې په نیمایي برخي کې راووتلو او په جومات کې یي لمونځ وکړ صحابه ؤ هم د هغه په څیر لمونځونه ترسره کړ صحابه ؤ پخپلو لمونځونو کې خبری پیل کړی او زیاتر لدوي څخه راجمع شول او نبي کریم صلی الله علیه وسلم سره یي یو ځاي لمونځ ترسره کړ بیا خلکو پخپلو منځو کې ددغه لمانځه په هکله خبري وکړی خو دویمه شپه بیا لمونځ کوونکي زیات شول نو نبي کریم صلی الله علیه وسلم راووتلو او له ټولو سره یي یو ځای لمونځ اداء کړ کله چې څلورمه شپه راغله نو په جومات کې ځاي نه وو تردي چې نبي کریم د سهار لمانځه لپاره راووتلو کله چې د سهار لمونځ یي وکړ خلکو ته یي مخ راوړولو او دعاء یي ووکړه بیا یي وفرمایل: اما بعد
یقینا چې ستاسو مرتبه زما په وړاندی پټه نده خو زه لدی څخه وریږم چې دا په تاسو باندی فرض شي او تاسو به ددی توان ونلری بیا عمربن خطاب رضی الله عنه د خپل خلافت په دوران کې مسلمانان پدی باندی راټول کړل چې یو قاري به ولري لکه عبدالرحمن بن عبدالقاری څخه روایت دی چې فرمایي: د عمر بن خطاب سره یو ځاي د روژي په مبارکه میاشت کې جومات ته راووتلم نو خلک مو ولیدل چې ویشلي او

ډلی ډلی وو او هر کس له خپل ځان سره خپل لمونځ کولو او ځيني داسی وو چې يو کس به امامت کولو او نور به ورپسی ولاړ وو نو عمر رضی الله عنه وفرمايل: زما په اند که چيرته دا ټول راجمع کړو او يو قاري ورته لمونځ ورکړي نو دا به غوره وي نو وروسته يی بيا دا تصميم ونيولو او ابی بن کعب يي د هغوي امام وټاکلو ترڅو د تراويح لمونځ په جمع سره اداء شي او مسلمانان يو موټی شي.
حقيقي روژه دا ده چې د ټولو ګناهونو او د بديو څخه ځان وساتی خو متاسفانه ډير داسی روژه نيونکي شته چې يواځې د تندي او د لوږي څخه پرته بل څه يي په نظر کې نه وي نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: ښايي داسی روژه داران وي چې يواځې د لوږي او د تندی څخه يی روژه نيولي وي او ښايي ډيری داسی لمونځ کوونکي وي چې يواځې د شپې ويخ پاتي وي همدارنګه فرمايلي دي څوک چې پدغه مياشت کې دروغ او ناوړه عملونه پرينږدی نو الله جل جلاله خو ديته اړتيا نلري چې د هغه لپاره يو څوک خوراک او څښاک پريږدي جابر بن عبدالله رضی الله عنه څخه روايت دی فرمايي: کله چې دي روژه ونيوله نو ستا غوږ سترګي ژبه بايد د درواغو او د حرامو څخه روژه وي او خادم ته بايد زيان ونه رسوي او د روزي په ورځ بايد باعزته او ارامه ووسی او بي روژی او د روژي ورځ بايد سره برابر نکړي او مسلمان بايد ددی حرص لري چې خپله روژه بايد حقيقی روژه ونيسي ترڅو هغه ګټه لاسته راوړي چې د خپلي روژي څخه هيله تري لري چې هغه الله جل جلاله ته پرهيزګاري ده.
مونږ بايد پدی هم پوه شو چې د روژي مبارکه مياشت د کوښښ اجتهاد او د کار او د هڅو مياشت ده د روژي په مبارکه مياشت کې بايد زمونږ هڅي او کارونه کم نشي ځکه چې د نورو مياشتو په پرتله د ستړتيا او د ويری احساس ونکړو ځکه چې ډيری خلک ستړتيا او تنبلی لوری ته رجوع کوي او د روژي په مبارکي مياشتی کې خوبونه زيات کوي چې دا

ښځپله ددي لامل کیدلاي شي چې پدغه مبارکه میاشت کې د خلکو کارونه وځنډیږي دا ټول د روژي د مبارکي میاشتی د مقصد او د هدف سره په ټکر کې دي چې روژه د څه لپاره راغلي ده او هغه پرهیزګاري ده لکه چې الله جل جلاله فرمايي: « يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ ٱلصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ»، ژباړه: « اې مؤمنانو! پر تاسي روژې فرض کړای شوې، لکه چي ستاسي څخه د مخکني پیغمبرانو پر پیروانو فرض کړای شوي وې، ددې لپاره چي په تاسي کي د پرهېزګارئ صفت پیدا شي» نو پرهیزګاري په تنبلي او سترتیا څخه لاسته نشي راتلي بلکی باید زیات عبادت او کار وکړی شي او همدارنګه پدغه مبارکه میاشت کې اخلاص وکړی شي ځکه چې الله جل جلاله مونږ او تاسی د ټولو څارنه کوي.

او د روژه دار د نورو مهمو صفتونو څخه هم دا دی چې الله جل جلاله باید تل حاضر او ناظر وګني چې د هغه څارنه کوي نو دا ښځپله ددی تقاضا کوي چې الله جل جلاله د هغه د کارونو څارنه کوي نو د کار په اداء کولو کې باید وفا وکړي ځکه هغه ذات چې ستا د لمانځه او ستا د روژي او د خوړو او د څښناک څخه د ځان ساتني څارنه کوي نو هغه ذات بیا ستا کار او همدارنګه په هغه کې د کوتاوالي او په سم ډول د نه سرته رسولو څارنه هم کوي.

دا چې په روژه دار باندي لازمه ده چې باید هڅه وکړي ترڅو حلاله روزي وګټي چې په ترڅ کې د هغه دعاء قبوله شي نو لازمه ده چې هغه دا هم باید درک کړي چې که چیرته د یو کار تنخوا لاسته راوړي او هغه کار یی په سمه توګه سره اداء کړی نه وي نو دا پدي معنی ده چې هغه حرام مال لاسته راوړی دی ځکه چې بغیر د کار نه یي دغه پیسي لاسته راوي دي چې دا ورته حرام ګرځي او د هغه تړون عهد او د شرطونو څخه یي سرغړونه کړی ده چې یي باید خپله وظیفه په سمه توګه سرته

ورسوي برابره خبره ده چې دغه کار حکومتي وي او که ځانګړی خاص کار وي نو لازمه ده چې هغه سمه توګه سرته ورسوي.

اقول قولی هذا و استغفرالله لی ولکم

*********

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، او زه ګواهي ورکوم چې نشته لایق د عبادت مګر یو الله دی چې هیڅ شریک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځي پوري په نیکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

ډیرو درنو مسلمانانو ورونو:

کاراو عبادت دواړه د یوي سکي دوه مخونه دي ځکه چې عبادت خپله کار دي او هغه ځانګړي کار چې د الله جل جلاله د رضا لپآره وي دا پخپله عبادت دی او کار او عبادت یو له بل څخه جلا کیدلی نشي لکه چې الله جل جلاله فرمایي:«وَقُلِ اعْمَلُوا فَسَيَرَى اللَّهُ عَمَلَكُمْ وَرَسُولُهُ وَالْمُؤْمِنُونَ ۖ وَسَتُرَدُّونَ إِلَىٰ عَالِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ» ژباړه: «او [ای پیغمبره (ص)!] دوی ته ووایه: تاسي عمل کوئ! الله، د هغه پیغمبر او مؤمنان ټول به وګوري چې ستاسي کړه وړه اوس څه دي. بیا به تاسي د هغه ذات لوري ته ور وګرځول شئ، چې په پټو او ښکاره ؤ هر څه باندي پوهیږي او هغه به تاسي ته در وښیي چې تاسي څه کول» او څوک چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په سیرت کې فکر وکړي او د هغه د صحابه ؤ سیرت ته وګوري او همدارنګه اسلامي تاریخ کې نظر وکړي نو وبه ګوري چې د روژی مبارکه میاشت د کاراو د تولیداتو میاشت ګڼل کیږي بلکي زیاتره د مسلمانانو بریاوي پدغه میاشت کې راغلي دي په یقیني توګه سره دا د بریاو او د فتوحاتو میاشت ګڼل کیږي ځکه چې پدغه مبارکه میاشت کې د لوي بدر بریا رامنځته شوی وه چې پخپله د حق او د

باطل ترمنځ یوه بیلونکي جګړه وه ځکه چې الله جل جلاله خپلو مومنانو ته پدې ورځ باندی بریا ورکړه سره لدی چې شمیر او توکی یې لږ وي وي لکه چې الله جل جلاله فرمایي:« وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ اللَّهُ بِبَدْرٍ وَأَنْتُمْ أَذِلَّةٌ فَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ * إِذْ تَقُولُ لِلْمُؤْمِنِينَ أَلَنْ يَكْفِيَكُمْ أَنْ يُمِدَّكُمْ رَبُّكُمْ بِثَلَاثَةِ آلَافٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ مُنْزَلِينَ * بَلَى إِنْ تَصْبِرُوا وَتَتَّقُوا وَيَأْتُوكُمْ مِنْ فَوْرِهِمْ هَذَا يُمْدِدْكُمْ رَبُّكُمْ بِخَمْسَةِ آلَافٍ مِنَ الْمَلَائِكَةِ مُسَوِّمِينَ * وَمَا جَعَلَهُ اللَّهُ إِلَّا بُشْرَى لَكُمْ وَلِتَطْمَئِنَّ قُلُوبُكُمْ بِهِ وَمَا النَّصْرُ إِلَّا مِنْ عِنْدِ اللَّهِ الْعَزِيزِ» ژباړه: « له دې څخه مخکي د بدر په جګړه کي الله ستاسي سره مرسته کړې وه، په داسي حال کي چي په هغه وخت کي تاسي ډېر زیات کمزوري واست. نو اوس پر تاسي دا لازمه ده چي د الله د ناشکری څخه ځان وژغورئ، درته په کار ده چي اوس شکر وباسئ، هغه وخت (یاد کړه) چي تا مؤمنانو ته ویل: "ایا تاسي ته دا کافي نه ده چي الله د درې زره پرښتو په را لیږلو درسره مرسته وکړي؟ بېشکه، که تاسي د زغم په لرلو له الله څخه په وېرېدو کار وکړئ، نو په کومه شېبه کښي چي دښمنان درباندي یرغل وکړي، په هماغه شېبه کښي به ستاسي رب (درې زره نه) پر پنځو زرو نښانه دارو پرښتو درسره مرسته وکړي، دا خبره الله ددې لپاره درته کړېده چي تاسي خوشحاله شئ او ستاسي زړونه پرې ډاډه شي. برلاسي او مرسته هر څه چي دي، د هغه الله له خوا دي چي ډېر زورور او د حکمت خاوند دی؛».

د روژي په مبارکه میاشت کې د مکي مکرمي فتحه رامنځته شوه چې یوه لویه فتحه وه له کبله یې الله جل جلاله خپل رسول او مومنانو ته عزت ورپه برخه کړ او شرک او مشرکین یې وشرمول په اوسني تاریخ کې د روژي د مبارکي میاشتی د لسمی نیټي لویه بریا ده چې د اکتوبر د میاشتی شپږمي نیټي سره سمون خوري چې پدغه نیټه باندي الله جل جلاله مصر ته بریا ورپه برخه کړه او خپله خاوره او کرامت یې ترلاسه کړ او د مصري پوځ د هر سربازدا شعار وو چې الله اکبر به یی ویل او د روژي

او همدارنګه لمونځونو او قرآن او په ريښتيني دعاء سره يي جګړه سرته ورسوله همدا وو چې ښکاره بريا دوي ته رامنځته شوه او تيري کوونکي يي وشړل او وتښتيدل دوي پخپله د دين او د خپل هيواد او د خپلی خاوري او د ناموس څخه دفاع وکړه دا پخپله يوعملي درس او عبرت د هغه چا لپآره وو چې هغه سره د مصر په عربي جمهوريت باندي د تيري پوښتنه رامنځته کيږي.

نو څومره به دا مناسبه وي چې مونږ د خپل ژوند په ټولو ډګرونو کې د روژي مبارکي مياشتي روح ته وګرځو او د برياو د لاسته راوړلو لپاره بيرته لدي څخه ګټه پورته کړو او د حق عدالت ستني پياوړی کړو همدارنګه د ځمکي ابرو عزت او د خاوري ساتنه وکړو ترڅو زمونږ ملت خپله مرتبه او هيبت د ټولو ملتونو او ولسونو په منځ کې لاسته راوړي او دا تر هغه نشي کيدلای ترڅو چې يو موټی نشو او د يوهدف لپآره راټول نشو او تر هغه دا ناشونی ده ترڅو چې هڅه کار او کوښښ ونکړو او همدارنګه د ټولو خلکو لپاره د خير او دښيګڼي غوښتنه ونکړو.

ای خدايه مونږ ته د شعبان په مياشت کې برکت واچوي او روژي ته مو ورسوي او زمونږ څخه عبادتونه او طاعات قبول کړی.